په جنت کې يوه ونه ده چې په يوه چټک او ښه روزل شوي آس سپور پرې سل کاله سفر وکړي خو بيا يې هم پای ته نه شي رسولی

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "په جنت کې يوه ونه ده چې په يوه چټک او ښه روزل شوي آس سپور پرې سل کاله سفر وکړي خو بيا يې هم پای ته نه شي رسولی".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په جنت کې يوه ونه ده چې د هغې لاندې د تېزې منډې لپاره چمتو شوی په آس سپور انسان پرې سل کاله سفر وکړي، خو بيا هم د هغې وروستۍ څانګې ته نه رسېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8350